دهقان
هفته‌نامه

## معياري كرنه؛ نړيوال بازارته لاس رســی
## زراعت معیاری؛ دستیابی به بازار جهانی

هفته‌نامه دهقان ▪ شماره یکصدوبیست‌وسوم ▪ شنبه ▪ ۱۳جدی ▪ ۱۳۹۹



# کشت و حاصلات برنج در ۱۳۹۹ نسبت به ۱۳۹۸ حدود ۱۵ درصد بیش‌تر شده است

۳

## زيره وطن، هم دارو هم غذا
### بررسی وضعیت تولید و اهمیت یک گیاه پرارزش

۷

## د نورستان د كرنې رياست؛ ۱۳۹۹يم مالي كال كې يې مهمې كړنې څه دي؟



۴

## د لغمان د كرنې رياست سرېزې كړنې او لاسته راوړنې



۵



## د كرنې وزير په كابل كې د پاكستان له سفير سره وكتل؛ د دواړو هيوادونو ترمنځ د كرنيزو محصولاتو د سوداگرۍ وضعيت د ښه كېدو په اړه خبرې اترې

د كرنــې، اوبولگولــو او مالــدارۍ وزيــر ډاكټــر انوارالحــق احــدي پــه خپــل دفتــر كــې د پاكســتان اســلامي جمهوريــت لــه ســفير منصــور احمــد خــان سره پــه كابــل كــې وكتــل. دوى پــه دې ليدنــه كــې د دواړو هيوادونــو تــر منــځ د كرنيــزو محصولاتــو د ســوداگرۍ پــه اړه خــبرې وكــړې. پــه دې ليدنــه كــې، ښــاغلي احــدي د كرنيــزو محصولاتــو، پــه ځانگــړې ډول د ميــوو پــه فصلونــو كې د ســوداگريزو اړيكــو پــر ښــه والي سربيــره ، ټينــگار وكــړ چــې د ميــوو پــه فصلونــو او نــورو كرنيــزو توليداتــو كــې بايــد د دواړو هيوادونــو پولــې خلاصــې وي. د كرنــې وزيرووېــل، چــې وخــت پــه وخــت لــه پاكســتان سره د كرنيــزو محصولاتــو پــه ســوداگرۍ كــې ســتونزې پيــدا كيــږي، چــې دا مســلې بايــد تــر بحــث لانــدې ونيــول شي او ســتونزې بايــد پــه دوه اړخيــزه توگــه حــل شي. دغــه راز ښــاغلي احــدي وويــل، چــې د گمركــي تعرفــې بايــد پــه موســمي ډول تغيــر ونــه كــړي، او دواړه خــواوې بايــد ډېــر تعامــل ولــري ، ځكــه چــې دواړه هيوادونــه د يــو بــل د توليداتــو بــازار جــوړوي. پــه دې ناســته كــې د كرنيــزو محصولاتــو سوداگرۍ پــه برخــه كــې د پاكســتان لــه ســفير سره هوكــړه وشــوه، چــې ځانگــړې موضوعــات او ســتونزې د حــل لپــاره د يــوه هئيــت وټــاكل شي، ترڅــو د گمركــي تعرفــې پــه بيلابيلــو كرنيــزو موســمونو كــې بدلــون ونكــړي. د پاكســتان ســفير پــه دې ليدنــه كــې خوشــبيني ښرگنــده كــړه چــې د دواړو هېوادونــو ترمنــځ تجــارتي اړيكــې بــه وده او پراختيــا ومومــي.

## گپ دهقان

### د وريجو د حاصلاتو هيله بښونکي زياتوالی: څنګه ځان بسياينې ته رسېږو؟

دمګړی افغانستان د کال څه باندې ۲۰۰ زره ټنه وريجې واردوي او ددغو وارداتو په بدل کې، ميليونونه ډالر له هېواده بهر ځي. ډېر واردات له هېواده بهر د پيسو لېږد زياتوي او د اقتصادي ودې زمينې کموي.

خو په روان کال کې، د ملي احصايې او مالوماتو اداري او دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت راپورونه ښيي، چې په هېواد کې د وريجو د کرکيلې سيمې او حاصلات ډېر شوي دي. يادې شمېرې ښيي، چې کروندګرو ته په کرونده کې د اوبو برابرول او د شولې کروندګرو د کاروبار د پياوړتيا په پار چوپړونه وړاندې کول ددې لامل شوي، چې د وريجو د کرکيلې سيمې او حاصلات نږدې ۱۵ سلنه ډېر شي.

د ملي احصايې او مالوماتو اداري د اټکل له مخې، په ۱۳۹۹يم کال کې هېواد ٦۵۵ زره ټنه وريجو ته اړتيا لري، چې د توليد ۴۴۰ زره ټنې کچې ته په کتو ۲۱۵ زره ټنه کمښت شتون لري. دا شمېرې يوازې د ۱۳۹۹يم کال اړوند دي. افغانستان سږکال څه باندې ۵۷ زره ټنه وريجې توليد کړې دي. دا په دې مانا که راتلونکی کال په دغو شمېرو کې بدلون را نه شي او وکولی شو چې د زياتوالي دا کچه ترڅلورو کالو وساتو، نو کولی شو چې په دې برخه کې ځان بسياينې ته ورسېږو. خو اړينه خبره داده، چې ځان بسياينې ته د رسېدو په پار يوازې د توليداتو زياتوالی بسنه نه کوي.

افغانستان د هغو هېوادونو په ډله کې ده، چې د وګړو شمېر يې په بې ساري توګه زياتېږي او ددې شونتيا شته چې کابو هم نه شي.

د شمېرو له مخې، له ۱۳۵۲ام کال مخکې، د هېواد د ټولو وګړو شمېر نږدې ۱۵ ميليونه وه. خو د احصايې او مالوماتو ملي اداري د شمېرو له مخې په وروستيو ۴۰ کالو کې، د هېواد وګړي ۳۲ ميليون تنو ته ورسېد. که په وروستيو ۴۷ کالو کې د وګړو ۱۷ميليوني زياتوالي (۱۱۳.۳۳ سلنې) د ۳۲ ميليوني وګړو د اټکل په حساب په هر راتلونکې کال تقسيم کړو، هرکال د افغانستان د وګړو په شمېر کې نږدې يوميليون کسان زياتېږي. د زياتوالي دې ضريب ته په کتو د وګړو شمېر هم هر کال زياتېږي، که دا وضعيت همداسې دوام وکړي په هېواد کې د اړتياوو کچې نه کنټرولېږي.

يادو موضوعاتو ته په کتو، غواړو ووايو چې هرکال د وګړو د ودې کچه، تولومحصولاتو ته د هېواد د تولېزې اړتياوې کچه لوړوي. دا اړتياوې په داسې حال کې زياتېږي، چې د وګړو زياتوالی، د کرنيزو ځمکو د کموالي لامل هم کېږي. د بېلګې په توګه څومره چې وګړي زياتېږي، د هېواد په کچه کرنيزې او هوارې ځمکې په استوګنځيو او کورونو بدلېږي او د توليد سيمه کمېږي.

د اړتياوو د ښه مديريت او د توليد د لاډېرو سرچينو د ايجادولو په پار او په پايله کې د ځان بسياينې په موخه، زموږ هېواد اړ دی، چې د توليد د زياتوالي همغږې ته پاملرنه وکړي او په ورته وخت کې د کرنيزو ځمکو د کمښت مخه ونيسي او دغه راز په هېواد کې د وګړو زياتوالی کنټرول شي. که يادو برخو ته په يو وخت کې پاملرنه ونه شي، د هېوادوالو د اړتياوو د توليد په برخه کې پرځان بسيانه به يوازې يو خوب وي.

## روان کال د پیازو د تولیداتو کچه زیاته شوې



ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت هرات از طریق تطبیق پروژه‌های انکشافی منابع طبیعی، برای ۲۰۰ نفر مستفیدشونده، ۲۰۰ بسته‌ی ارزش‌افزایی نبات طبی هینگ شامل ۱٦ قلم لوازم و اجناس مورد ضرورت را برحسب نیازمندی‌های‌شان توزیع کرد.

افزون بر تطبیق این فعالیت، به مساحت ۲۰۰ هکتار چراگاه نیز در ولسوالی زنده‌جان در شمال روستاهای شکیبان و میمیزک قرق تحت کشت نبات هینگ یا آنغوزه قرار گرفت .

باید یادآور شد که تطبیق این گونه پروژه‌ها بر علاوه‌ی اثرگذاری مثبت بر محیط زیست و بهبود آب و هوا، در رشد اقتصاد نیز نقش به سزایی دارد .

## کندهار کې کرنيزو پورونو ته د ښځو د لاس رسي په تړاو د همغږۍ غونډه




د کندهار د کرنې رياست له لوري د کرنې په برخه کې ښځينه متشبثينو ته د پورونو ورکړې په تړاو د دولتي ادارو او بانکونو له چارواکو سره د همغږۍ ګډه غونډه وشوه.

په دې غونډه کې، چې د کندهار د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ چارواکو، د يوشمېر خصوصي بانکونو او ادارو چارواکو، يوشمېر ښځينه متشبثينو او اړوندو چارواکو برخه اخيستې وه.

د کندهار د کرنې رياست ووېل: «دکرنې او مالدارۍ په برخه کې د اسلامي اصولو له مخې د پورونو ورکړه په دې برخه کې لا اسانتياوې رامنځته کولای شي.»

په دې غونډه کې د کندهار د کرنې رياست له خوا د کرنې ادارې له لوري مېرمنو ته په تېر کال کې د ترسره شويو فعاليتونو او راتلونکو پلانونو په تړاو هم معلومات وړاندې کړل.

ددې غونډې په ترڅ کې د بانکونو مسولينو د پرېزېټيشن په بڼه د پورونو د ورکړې په تړاو هر اړخيز معلومات له ګډونوالو سره شريک کړل.

## ۲۰۰ بسته‌ی ارزش‌افزایی نبات طبی هینگ در ولایت هرات توزیع شد



ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت هرات از طریق تطبیق پروژه‌های انکشافی منابع طبیعی، برای ۲۰۰ نفر مستفیدشونده، ۲۰۰ بسته‌ی ارزش‌افزایی نبات طبی هینگ شامل ۱٦ قلم لوازم و اجناس مورد ضرورت را برحسب نیازمندی‌های‌شان توزیع کرد.

افزون بر تطبیق این فعالیت، به مساحت ۲۰۰ هکتار چراگاه نیز در ولسوالی زنده‌جان در شمال روستاهای شکیبان و میمیزک قرق تحت کشت نبات هینگ یا آنغوزه قرار گرفت .

باید یادآور شد که تطبیق این گونه پروژه‌ها بر علاوه‌ی اثرگذاری مثبت بر محیط زیست و بهبود آب و هوا، در رشد اقتصاد نیز نقش به سزایی دارد .

## لغمان د ميکانيزه کرکيلې پرلور؛ يوشمېر بزګرانو سره د کرنيزو ماشينونو مرسته وشوه

د لغمان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست د خوړو نړيوال پروګرام«WFP» په مالي او د «اکټېډ» موسسې په تنيکي همکارۍ ددې ولايت د کرنې د ميکانيزه کېدو په پار د څه باندې دوه ميليونه افغانيو په ارزښت له يوشمېر بزګرانو سره د کرنيزو ماشينونو مرسته وکړه.



د لغمان دکرنې رييس محمدجميل خوشحال وايي، چې په دغو مرستو کې تراکټورونه، جنراتورونه او نور اړين کرنيز توکي شامل دي، چې ددې ولايت د مرکز مهترلام اړوند د علي خېلو او باغ ميرزا او د ياد ولايت د قرغيو ولسوالي د دره لام کليو پر دربوو ټولنو وېشل شوي دي.

ددغو مرستو موخه د بزګرانو ملاتړ او په دې ولايت کې د کرنې ميکانيزه کول دي.

له يادو توکو څخه برخمن شوي بزګران وايي، له کرنيزو ماشينونو او توکو څخه په استفادې سره هلې ځلې کوي، چې ډېر او باکيفيته حاصلات تر لاسه کړي.

د دغو توکو په وېش غونډه کې د لغمان مرستيال والي او ددې ولايت يو شمېر سيمه ييزو چارواکو هم ګډون درلود

# کاشت و حاصلات برنج در ۱۳۹۹ نسبت به ۱۳۹۸ حدود ۱۵ درصد بیش‌تر شده است

وزارت زراعت، آبیاری و مالداری و اداره‌ی ملی احصاییه و معلومات، گزارش مشترکی را زیر نام «گزارش تولید برنج سال ۱۳۹۹» با استفاده از آمارگیری‌های خاص تهیه کرده‌اند که نشان می‌دهد در کاشت و برداشت برنج در کشور در سال ۱۳۹۹ نسبت به ۱۳۹۸، حدود ۱۵ درصد افزایش به میان آمده است.

حاصلات برنج در سال گذشته ۳۸۳ هزار متریک تن بود، اما به اساس گزارش سروی‌های جدید، در سال روان، با افزایش ۵۷ هزار تُنی، به ۴۴۰ هزار متریک تن رسیده است.

همین گونه شالی‌زارهای کشور در سال گذشته ۱۲۸ هزار هکتار گزارش شده بود، در حالی به اساس سروی جدید، امسال کشت‌زارهای شالی با افزایش ۱۹.۵ هزار هکتاری، به ۱۴۷.۵ هزار هکتار رسیده است.

این سروی به چند روش، از جمله دریافت ساحات تحت کشت شالی توسط «ریموت سنسنگ» یا سنجش از دور در ۱۲۶ ولسوالی ۱۹ ولایت، مصاحبه با دهقانان و قطع نبات شالی و نمونه‌گیری از حاصلات انجام یافته است.

آمارگیری یادشده تمامی زمان کاشت و برداشت شالی، که حدود پنج ماه می‌شود را در بر گرفته است.

افزایش حدود ۱۵ درصدی حاصلات برنج در ۱۳۹۹ نسبت به ۱۳۹۸ در حالی است که برنج از مصارف کلان شهروندان افغانستان به شمار می‌رود و استفاده از آن به صورت گسترده صورت می‌گیرد.

به گزارش این سروی مشترک وزارت زراعت و اداره‌ی ملی احصاییه، کندز با داشتن ۴۶.۸ هزار هکتار شالی‌زار و تولید ۱۴۰ هزار متریک تن برنج، جایگاه اول ولایات تولیدکننده‌ی برنج را دارد.

تخار با داشتن ۲۳ هزار هکتار شالی‌زار و تولید ۷۵ هزار تنی، جایگاه دوم، بغلان با داشتن ۱۹.۷ هزار هکتار شالی‌زار و تولید ۶۳ هزار تنی جایگاه سوم و ننگرهار با داشتن ۱۴.۶ هزار هکتار شالی‌زار و تولید ۴۷ هزار تُن برنج در جایگاه چهارم قرار دارد.

هرات با تولید ۲۸ هزار تُنی، کنر با تولید ۲۰ هزار تُنی، بلخ با تولید ۱۸ هزار تُنی و لغمان با تولید ۱۵ هزار تُنی در جایگاه‌های بعدی قرار دارند. خوست، ارزگان، پکتیا، بدخشان، دایکندی، کابل، بادغیس، هلمند، بامیان، سرپل و غور، از ولایت‌های بعدی تولیدکننده‌ی برنج در کشور اند.

باید گفت ساخت شبکه‌های آبیاری، راه‌اندازی برنامه‌های آموزشی، ایجاد مزرعه‌های نمایشی شالی و کمک به شالی‌کاران توسط وزارت زراعت، منجر به افزایش کشت گردیده و نیز باعث بیش‌تر شدن حاصلات شالی در میان دهقانان شده است.

به اساس تخمین اداره‌ی ملی احصاییه و معلومات، نیاز افغانستان به برنج در سال ۱۳۹۹، ۶۵۵ هزار تن است که با توجه به میزان تولید، ۲۱۵ هزار تن کمبود وجود دارد.

تصاویر ذیل مراحل مختلف تطبیق سروی قطع شالی را در ساحه نشان میدهد


مرحله چوکات بندی


مرحله قطع نبات


مرحله جدا کردن دانه ها


مرحله وزن و سنجش رطوبت دانه ها

# فارم تحقیقاتی شیشم‌باغ ننگرهار: محل مناسبی برای تحقیقات دانشجویان زراعت


شجاع‌الحق نوری
گزارش‌گر

فارم تحقیقات زراعتی «شیشم‌باغ» در ولسوالی بهسود ولایت ننگرهار، برای دانشجویان رشته‌ی زراعت و باغداران به عنوان یک آموزشگاه تحقیقاتی به شمار می‌رود. این فارم کمی دورتر از شهر جلال‌آباد، در ولسوالی بهسود، محل سبز و خوش‌نما دارای میوه‌های رنگارنگ است.

این فارم تحقیقی به نام شیشم‌باغ یا کلکسیون ملی میوه‌جات ولایت ننگرهار یاد می‌شود و انواع مختلفی از میوه‌جات از قبیل مالته، لیمو، چکوتره، خُرما و کینو در آن وجود دارد.

این فارم ۱۳ سال قبل توسط وزارت زراعت، آبیاری و مالداری در ولسوالی بهسود ساخته شده است. شیشم‌باغ یکی از مناسب‌ترین فارم تحقیقات میوه برای باغداران و دانشجویان رشته زراعت در زون شرق به حساب می‌آید.

مسوولان این فارم می‌گویند ده‌ها نوع درخت میوه در آن غرس شده و در فصل‌های مختلف در آن تحقیق صورت می‌گیرد. مساحت این فارم به ۵۰ جریب می‌رسد و مشهورترین میوه‌های آن مالته، چکوتره، سنتره، املوک، انجیر، زیتون، خُرما، لوکات و انواع لیموها است.



امین‌الله یک تن از دانشجویان بخش باغداری دانشگاه ننگرهار است. او می‌گوید: «تحصیلات عالی به خاطر شیوع کرونا، ما را رخصت کرد و با استفاده از همین رخصتی، آمدیم به این باغ تا چیزی بیاموزیم؛ در مورد امراض و کمبود ویتامین‌ها و کیفیت میوه که چطور است. چیزهایی را که عملی نمی‌فهمیدیم برای ما در این باغ گفتند، موضوعاتی که ضروری و نیاز بود برای ما گفتند. در مورد جسم نبات، داشتن آهن، پتاسیم، کوددهی، شاخچه‌بری عملی آگاهی دادند.»

در همین حال، عبداللطیف بارکزی مسوول این فارم می‌گوید در سال ۲۰۰۷ این باغ تحقیقاتی ساخت شد و حالا هفت نوع کلکسیون میوه در آن موجود است و روی آن تحقیق می‌شود. به گفته‌ی او، تنها ۶۶ نوع میوه درختان همیشه سبز یا ستروس در این باغ موجود است. چهار نوع مالته، دو نوع چکوتره، دو نوع لیمو، گونه‌های مختلف نارنج نیز در این باغ وجود دارد. مساحت باغ ۵۰ جریب است و ۱۰ نفر در آن کار می‌کنند. بیش از دوهزار درخت انگور، شفتالو، ناک، انجیر، خرما، لوکات نیز در آن پرورش داده می‌شود و سالانه به صدها باغدار و دانشجوی رشته زراعت از آن دیدن کرده و آموزش داده می‌شود. حاجی حکمت‌شاه باغبان این فارم به هفته‌نامه دهقان گفت: «در این باغ ۱۳ سال می‌شود کار می‌کنیم. دوا پاشی، بیل زدن، شاخه‌بُری، کود دادن سیاه و سفید کارهای ما می‌باشد. نُه هزار افغانی معاش می‌گیریم، متخصصین زراعت، دانشجویان و باغداران از آن دیدن می‌کنند، در صورت نیاز برای محصلان و باغداران شیوه کود دادن، شاخه‌بُری، آب دادن، دواپاشی، پیوند زدن و همین‌طور در باره چگونگی استعمال کود سیاه و سفید آگاهی می‌دهیم و عملی کار می‌کنیم.»



نورالله پتمن
خبریال

## د نورستان د کرنې ریاست؛
# ۱۳۹۹یم مالي کال کې یې مهمې کړنې څه دي؟

د نورستان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست په ۱۳۹۹یم مالي کال کې ددې ولایت د کرنې، بڼوالۍ، طبیعي سرچینو او مالدارۍ د پراختیا او وضعیت ښه کولو په پار د ۱۸ میلیونه او ۳۳۷زره او ۸۴۴ افغانیو بودیجې په لګولو سره د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژې ترڅنګ ګڼې پروژې پلي کړي دي، چې ورسره په یادو برخو کې د پام وړ پرمختګونه تر سترګو کیږي. یاده بودیجه ددې ولایت د مرکز په ګډون په ټولو ولسوالیو کې د کرنې، مالدارۍ، بڼوالۍ، طبیعي سرچینو او اوبولګولو په بېلابېلو برخو کې لګول شوې دی.

د نورستان دکرنې ریاست چارواکي وایي، چې سږکال په دې ولایت کې د کرنیزو محصولاتومدیریت د پروژې په اډانه د کچالو ۱۷ صفر درجې زېرمتونونه جوړ شوي دي. ددې ترڅنګ په روان مالي کال کې د نورستان په ولایت کې د میکانیزه کرکېلي په پار هم یوشمېر پروژې پلي شوي دي. په دغو پروژو کې، د زعفرانو پنځه نندارېزې قطعې جوړول، پر بزګرانو د زعفرانو د پیازو او اړوندو توکو وېش، د ممپلیو او غنمو نندارېزې قطعې جوړول او پر ۱۹۶۰ بزګرانو ۹۸متریک ټنه د غنمو اصلاح شویو تخمونو وېش شامل دي. ددغو کړونو ترڅنګ د نورستان د کرنې ریاست له خوا د همکارو موسسو په مرسته یوشمېر بې وزله کورنیو سره نغدې مرستې او پر زرو کورنیو د څارویو د خوراکي توکو وېش هم ددې ریاست سرېنې کړنې دي.



د چارواکو په خبره روان مالي کال ددې ولایت د بڼوالۍ او ځنګولۍ د پراختیا په پار هم هلې ځلې شوي دي، په روان مالي کال کې د کرنې وزارت د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې له لارې په دې ولایت کې ۱۳۵ جریبه مېوه لرونکي بڼونه جوړول، په ۱۰۰ هکتاره ځمکه کې د جلغوزیو ځنګلونه کرل او د جلغوزیو پر ځنګل لرونکو د جلغوزې د غوڅو پرې کولو ۱۲۰ بیاتې ګانې وېشل هغه څه دي، چې سږکال د نورستان د کرنې ریاست له خوا ددې ولایت د بڼوالۍ او ځنګلولۍ د پراختیا په پار تر سره شوي دي. دغه راز د ۲۵۰۰ متر مکعب اوبو په وړتیا سره چک ډمونه او تراشونه جوړول، د سبو د ناروغیو او افتونو د مخنیوي په پار پر بزګرانو درمل وېشل او د دوی کروندې دواپاشي کول او بزګرانو ته روزنه ورکول هم د نورستان د کرنې ریاست سرېنې لاسته راوړنې دي.

د نورستان د کرنې ریاست چارواکي وایي، چې سږکال ددې ولایت د مالدارۍ برخې ته هم پاملرنه شوې ده، د دوی په خبره، د کانګو تبې ناروغۍ د مخنیوي په پار پراخ کمپاینونه ترسره شوي دي، څارویو ته ډول ډول واکسینونه ورکړل شوي دي، پر مالدارانو د شېدو د پروسس ۴۳ کڅوړې وېشل شوي دي.

په ورته وخت کې، په ۱۳۹۹یم مالي کال کې د نورستان د نارینه و بزګرانو ترڅنګ ښځینه و بزګرانو ته هم پاملرنه شوي او د کرکېله په برخه کې د ښځینه و بزګرانو د ونډې زیاتولو په پار هم یوشمېر پروژې پلي شوي دي، چې په کې ښځینه و بزګرانو ته ۵۰۰ کورني باغچې جوړول، په کورنیو باغچو کې د کرکېلي او حاصل ټولولو په برخه کې د ښځینه بزګرانو روزل، پر ښځینه و بزګرانو د کورنیو باغچو اړونده توکي وېشل، پر یادو بزګرانو د بېلابېلو سبو تخمونه او د سبو د پروسس توکي وېشل، ۱۰۰۰ بېوزله مېرمنو ته د هګیو چرګان ورکول او د زعفرانو د کرکېلي او حاصل ټولولو په برخه ۱۷ مېرمنې روزل نور هغه څه دي، چې د نورستان د کرنې ریاست له خوا د روان مالي کال په ترڅ کې ترسره شوي دي.

---

درخشان صدیقی
خبریال

# د روان کال په لومړۍ نیمایي کې، څه باندې ۹ټنه زیره راټول شوي

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د احصایې او مالوماتو ریاست شمېرې ښیي، چې د روان لمریز کال په لومړۍ نیمایي، کې د هېواد په کچه ۹ متریک ټنه زیره راټول شوي دي.

یاد ریاست دغه راز وایي، چې تېرکال په ټولیزه توګه ۱۲.۹۸۹ متریک ټنه زیره راټول شوې وه. د دې شمېرې پر اساس، د تېرکال په پرتله د زیرې سرېني کچه به د پام وړ زیات شي.

دغه راز د کرنې وزارت د احصایې ریاست شمېرې ښیي، چې د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې له هېواده بهر ددې بوټي د صادراتو کچه د تېرکال د ورته دورې په پرتله، زیات شوي دي او ددغو صادراتو ارزښت شپږ میلیونه او ۲۱۶ زره ډالرو ته رسیږي. تېرکال د زیرې د صادراتو ټولیز ارزښت شپږ میلیونه او ۴۳۱ زره ډالرو ته رسېدلې وه. دغو شمېرو ته په کتو د روان کال تر پایه د زیرې د صادراتو کچه هم د پام وړ زیاتیږي. په افغانستان کې بدخشان، جوزجان، ارزګان، دایکندي، نیمروز، زابل، هلمند، کندهار، بلخ، سمنګان، فراه، بادغیس او پکتیکا د زیرې لوی تولیدوونکي ولایتونه دي. د زیرې بوټې ۱۵ تر ۵۰ سانتي مترو پورې لوړوالي، نرۍ او اوږدې رېښې لري. زیره بېلابېل ډولونه لري، چې تر ټولو نوموتي هغو یې توره زیره، سپینه زیره او شنه زیره ده. له زیرې څخه په خوړو او طبابت کې ګټه اخیستل کیږي او په کور د ننه او بهر ښه مارکېټ هم لري.



---

# ریاست زراعت دایکندی درباره فعالیت‌های زراعتی امسال به باشنده‌گان ولسوالی‌های میرامور و شهرستان معلومات داد

مسوولان ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت دایکندی در سفری به ولسوالی میرامور این ولایت، در جلسه‌ای به باشنده‌گان این ولسوالی‌های میرامور و شهرستان درباره فعالیت‌های امسال در عرصه‌ی زراعت، آبیاری و مالداری معلومات دادند.

سیدعبدالواحد فیروزی رییس زراعت دایکندی، در این جلسه گفت که ساخت ۲۹ ذخیره‌گاه کچالو، ۴۱ ذخیره‌گاه پیاز، هشت سردخانه‌ی سیب و هم‌چنین توزیع ۴۵ تُن تخم اصلاح‌شده‌ی گندم، شش‌هزار و ۵۳۹ کیلوگرام پیاز زعفران برای ساخت ۱۳ مزرعه‌ی نمایشی، ۴۰ سبزخانه برای تولید سبزیجات، ساخت ۵۹۵ جریب باغ مختلف و عصری،



تطبیق ۲۳ هزار و ۱۲۰ دوز واکسین بروسلوز، کنترل آفات نباتی در مناطق مختلف ولسوالی‌های میرامور و شهرستان، آموزش‌دهی به دهقانان و شاخه‌بُری درختان میوه از جمله مهم‌ترین فعالیت‌های امسال می‌باشد.

او گفت برخی از مؤسسات نیز در عرصه‌های مدیریت چراگاه‌ها، احیای جنگل‌ها، ساخت قوریه، کاشت علف و گیاهان طبی، ایجاد گل‌خانه در دو ولسوالی شهرستان و میرامور و همین‌طور تجهیز فابریکه‌های لبنیات، پروسس بادام، اعمار و تجهیز فارم گاوداری، توزیع تخم‌های اصلاح‌شده و کود کیمیایی فعالیت داشته‌اند.

# د لغمان د کرنې ریاست سږني کړنې او لاسته راوړنې

عبدالواسع خان‌زاده
خبریال

د لغمان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست په ۱۳۹۹یم مالي کال کې ددې ولایت د کرنې، بڼوالۍ او مالدارۍ د پراختیا او وضعیت ښه کولو په پار له ۳۹۵ میلیونه او ۹۰۹زره او ۴۹۵ افغانۍ بودیجې څخه د ۳۹۰میلیونه او۶۸۸زره او۹۱۳ افغانیو بودیجې په لګولو سره ګڼې پروژې پلي کړي دي، چې ورسره په یادو برخو کې د پام وړ پرمختګونه تر سترګو کیږي. یاده بودیجه ددې ولایت د مرکز په ګډون په ټولو ولسوالیو کې د کرنې، مالدارۍ، بڼوالۍ او اوبولګولو په بېلابېلو برخو کې لګول شوی دی.

د لغمان دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس محمدجمیل خوشحال وایي، چې سږکال د لغمان په ولایت کې د کرنیزو محصولاتومدیریت د پروژې په اډانه د پیازو ۱۹۰ صفر درجې زېرمتونونه جوړ شوي دي. ددې ترڅنګ په روان مالي کال کې د لغمان په ولایت کې د میکانیزه کرکېلي په پار هم یوشمېر پروژې پلي شوي دي. د ښاغلي خوشحال په خبره ددې ولایت د بزګرانو د حاصلاتو زیاتوالي په پار پر بزګرانو د غنمو ۵۹۱ ټنه اصلاح شوي تخمونه وېشل شوي او ترڅنګ یې د غنمو ۱۲، د شولو ۱۲۰، د سویابینو ۱۵ او د زعفرانو پنځه نندارېزې قطعې هم جوړې شوي دي. که څه هم لغمان د سبو د پلازمېنې په نوم شهرت لري، خو بیا هم په دې ولایت کې د بېلابېلو مېوو سلګونه هکتاره بڼونه شتون. ددې ولایت د بڼوالو د عوایدو زیاتولو او د بڼوالۍ د پراختیا په پار سږکال هم د بېلابېلو مېوو له ډلې د سټروسو نوي بڼونه جوړ شوي دي، ۳۷متراکم او ۷۲۱ غیر متراکم یو جریبه بڼونه جوړول، او پر بڼوالو د اصلاح شویو نیالګیو وېش. ددې ترڅنګ بڼوالو ته روزنه ورکول او د بڼونو د افتونو او ناروغیو د کنټرول او درملنې په پار پراخ پروګرامونه پلي کول هغه څه دي، چې سږکال د لغمان د کرنې ریاست له خوا ددې ولایت د بڼوالۍ د پراختیا په پار تر سره شوي دي. دغه راز د اوبولګولو لس کانالونه جوړول او د کرنې څېړنیز فارم لپاره ځمکې ثبتول هم د لغمان د کرنې ریاست سږني لاسته راوړنې دي.

د لغمان د کرنې رییس محمدجمیل خوشحال په خبره سږکال ددې ولایت د بڼوالۍ د پراختیا ترڅنګ د ځنګلونو ساتنې، بیارغونې او پراختیا ته هم پاملرنه شوې، او په دې برخه کې ګڼې کړنې تر سره شوي دي، چې په کې د بېرې ۶۰ هکتاره ځنګل جوړول، ۶۵۰ زره پلاستیکي کڅوړې ډکول، د بېرې دودولو په پار ولایتونو ته ۱۷ زره نیالګي لېږل او په بیره د څلور زره وحشي کرګنو پیوندول شامل دي.

دغه راز ۱۳۹۹یم مالي کال کې د لغمان د نارینه و بزګرانو ترڅنګ ښځینه و بزګرانو ته هم پاملرنه شوي او د کرکېله په برخه کې د ښځینه و بزګرانو د وندې زیاتولو په پار هم یوشمېر پروژې پلي شوي دي، چې په کې ښځینه و بزګرانو ته ۸۰۰ کورني باغچې جوړول، په کورنیو باغچو کې د کرکېلي او حاصل ټولولو په برخه کې د ښځینه بزګرانو روزل، پر ښځینه و بزګرانو د کورنیو باغچو



اړونده توکي وېشل او پر یادو بزګرانو د بېلابېلو سبو تخمونه وېشل نور هغه څه دي، چې د روان مالي کال په ترڅ کې ترسره شوي دي.

محمد جمیل خوشحال وایي، چې سږکال ددې ولایت د مالدارۍ برخې ته هم پاملرنه شوې ده، د هغه په خبره، د کانګو تبې ناروغۍ د مخنیوي په پار پراخ کمپاینونه ترسره شوي دي، د شېدې ټولولو مرکز جوړ شوي دي، د کبانو ۲۰ فارمونه جوړ شوي، یوزرو ۲۴ بېوزله کورنیو ته هګیو چرګانو ورکول، د څارویو د نسل د اصلاح په پار مصنوعي القاح ترسره کول او تر څنګ یې ۳۰۰ بې وزله کورنیو سره نغدي مرستې نور هغه کړنې دي، چې د لغمان دکرنې ریاست له خوا په ۱۳۹۹یم مالي کال کې ترسره شوي دي.

# ۱۳۹۹ایم مالي کال کې د پکتیکا د کرنې ریاست کړنې

ع خان‌زاده
خبریال

د پکتیکا د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست په ۱۳۹۹یم مالي کال کې ۲۳۳میلیونه او ۳۳۴زره او ۱۵۳ افغانۍ بودیجه درلود. یاده بودیجه ددې ولایت د مرکز په ګډون په ټولو ولسوالیو کې د کرنې، مالدارۍ، بڼوالۍ او اوبولګولو په بېلابېلو برخو کې لګول شوی دی.

د پکتیکا دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست چارسمبال ابوبکر حقیار وایي، چې سږکال د پکتیکا په ولایت کې د کرنیزو محصولاتومدیریت د پروژې په اډانه کې ۵۸ ممیزخونې، د کچالو ۹۷ زېرمتونونه، د پیازو ۷۴ زېرمتونونه او د مڼو ۳۳ صفر درجې سړې خونې جوړ او د سبو او مېوو ۵۸ وچوونکي لمریز دستګاوې وېشل شوي، چې ددغو پروژو چارې پشپړ او ګټې خیستنې ته سپارل شوي دي.

ددې ترڅنګ په روان مالي کال کې د پکتیکا په ولایت کې د ارزښت لرونکو کرنیزو محصولاتو دودولو او میکانیزه کرکېلي په پار هم یوشمېر پروژې پلي شوي دي. د ښاغلي حقیار په خبره د پکتیکا په پنځو ولسوالیو کې د زعفرانو شپږ او د غنمو ۲۱ نندارېزې قطعې جوړې شوي دي، پر څلور زره او ۵۶۰ بزګرانو د غنمو اصلاح شوي تخمونه وېشل شوي دي، ۴۰ نارینه او ښځینه و بزګرانو ته د زعفرانو د کرکېلي، حاصل ټولولو او پروسس په برخه کې روزنه ورکړل شوي او مخکښو بزګرانو ته پنځه عرادې ټراکتورونه ورکړل شوي دي.

د پکتیکا ولایت ډېرې سیمې دښتي او غرونه پوښلي دي خو بیا هم په دې ولایت کې د بېلابېلو مېوو سلګونه هکتاره بڼونه شتون. ددې ولایت د بڼوالو د عوایدو زیاتولو او د بڼوالۍ د پراختیا په پار یوزرو او ۴۶۰ جریبه ځمکه کې د مېوو ډول ډول بڼونه جوړول، ۲۳جریبه متراکم بڼونه جوړول، انګورو بڼوالو لپاره ممیزخونې جوړول، د مڼو بڼوالو لپاره سړې خونې جوړول او په ټوله کې د بڼوالو بڼونو خړوبولو په پار چکډمونه جوړول او پر بڼوالو اصلاح شوي نیالګي وېشل شامل دي. ددې ترڅنګ بڼوالو ته روزنه ورکول او د بڼونو د افتونو او ناروغیو د کنټرول او درملنې په پار پراخ پروګرامونه پلي کول هغه څه دي، چې سږکال د پکتیکا د کرنې ریاست له خوا ددې ولایت د بڼوالۍ د پراختیا په پار تر سره شوي دي.

د پکتیکا د کرنې ریاست چارسمبال ابوبکر حقیار په خبره سږکال ددې ولایت د بڼوالۍ د پراختیا د ترڅنګ د ځنګلونو ساتنې، بیارغونې او پراختیا ته هم پاملرنه شوې، او په دې برخه کې ګڼې کړنې تر سره شوي دي، چې په کې د چهارمغزو او جلغوزیو کورني قوریې جوړول، د چهارمغزو او جلغوزیو د قوریو لپاره ۳۵۶ بزګرانو ته روزنه ورکول او پر دوی د جالیو وېش، د پکتیکا د زرغونتیا په پار ۳۰ زره نیالګي تولیدول او د ځنګلونو د ساتنې په پار ۲۷ ټولنې جوړول شامل دي.

دغه راز ۱۳۹۹یم مالي کال کې د پکتیکا د نارینه و بزګرانو ترڅنګ ښځینه و بزګرانو ته هم پاملرنه شوي او د کرکېله په برخه کې د ښځینه و بزګرانو د وندې زیاتولو په پار هم یوشمېر پروژې پلي شوي دي، چې په کې ښځینه و بزګرانو ته ۱۲۰ وړې شنې خونې جوړول، په شنوخونو کې د کرکېلي او حاصل ټولولو په برخه کې د ښځینه بزګرانو روزل، پر ښځینه و بزګرانو د شنوخونو اړونده توکي وېشل، پر یادو بزګرانو د بېلابېلو سبو ۱۰۰ کیلو ګرامه تخمونه وېشل او ددې ترڅنګ ۳۵ بزګرانو ته د اوبو ټانکۍ ورکول نور هغه څه دي، چې د روان مالي کال په ترڅ کې ترسره شوي دي.

د چارواکو په خبره سږکال ددې ولایت د مالدارۍ د پراختیا په پار هم د پام وړ کړنې ترسره شوي دي. د کانګو تبې ناروغۍ د مخنیوي په پار پراخ کمپاینونه ترسره شوي دي، د حیواني خوراکې جوړولو په پار د سایلیج درې سیلوګانې جوړ شوي، د بروسلوز«حیواني محرقې» او طاعون پر وړاندې د مبارزې په پار ۱۵۶ زره ډوزه واکسین پر څارویو پلي شوي، د څارویو د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي په پار د مالدارۍ شپږ سیمه ییز ښوونځي ایجاد شوي دي او ترڅنګ یې ښځینه مالدارانو ته د شېدو کېټونه ورکړل شوي دي.

د یادو کړنو ترڅنګ روان کال ددې ولایت د کروندو خوندي کولو په پار هم پراخ پروګرامونه ترسره شوي دي. ابوبکر حقیار وایي، چې روان کال د ملخانو د کنټرول په پار سروې ترسره شوي او هم د ملخانو د کنټرول په موخه ددې ولایت د متاخان، اورګون او سروضې په ولسوالیو کې کمپاینونه ترسره شوي دي. ددې ترڅنګ پر بزګرانو ۲۱۲ د درملو پاشلو پمپونه هم په نیمه بیه وېشل شوي، پنځه بابه ګرځنده نباتي کلینیکونو ته توکي او قرطاسیې ورکړل شوي او دغه راز د ناروغیو او افتونو د کنټرول په پار ۵۷۹ لیټره درمل بزګرانو ته ورکړل شوي.

په پکتیکا کې که څه هم چې دښتې ډېرې دي او حکومت یې خړوبولو په پار هلې ځلې پیل کړي دي؛ خو بیا هم ۶۵ سلنه وګړي یې په بزګرۍ اخته دي. مشهور کرنیز پیداوار یې غنم، جوار، اوربشې، مې او لوبیا دي.

پکتیکا د جلغوزیو او بادامو تر څنګ، انګور، مڼې، او زردالو هم لري. جلغوزي یې په سروبي، اومنې، ګیان، ګومل، زیړوک، نکه، چهارباران او سر روضه کې موجود دي. انګور په مرکز یوسف خېل، خېرکوټ او متاخان کې په زیاته اندازه شتون لري. مڼې او زردالو یې نږدې په ټولو سیمو کې موجودې دي.

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د نورو ولایتو ترڅنګ د پکتیکا ولایت د ځنګلونو د احیا او خوندي کولو په پار هڅې پیل کړي دي او ددې ترڅنګ د یاد ولایت بزګرانو، بڼوالو اومالدارانو ته د لازیاتو اسانتیاوو برابرولو په پار هلې ځلې کوی او داسې لارې چارې لټوي، چې ورسره د دوی د عوایدو کچه لوړ شي.

# مصرف ۷۰۰ میلیون افغانی برای رشد زراعت در بامیان



نعیم رضایی
گزارش‌گر

ریاست زراعت بامیان در همکاری با برخی از موسسات در سال مالی ۱۳۹۹، حدود ۷۰۰ میلیون افغانی برای رشد زراعت در این ولایت مصرف کرده است.
عبدالوهاب محمدی رییس زراعت بامیان، می‌گوید که این اداره در سال جاری تحقیقاتی را بالای ۳۸ نوع کچالوی جدید اصلاح‌شده و ۵۰۰ لاین گندم در فارم تحقیقاتی ملاغلام و معرفی نژادها(ورایتی‌ها)ی جدید و پرحاصل متناسب به شرایط مارکیت انجام داده است.
هم‌چنان در این بخش از شش‌هزار و ۵۰۰ دهقانان کم زمین که در بخش کشت و تولید کچالو فعالیت دارند، با توزیع بسته‌های کود کیمیایی و ارایه‌ی خدمات موثر ترویجی از طریق پروژه مصونیت غذای و معیشت خانواده، حمایت صورت گرفته است.
رییس زراعت ولایت بامیان گفت: «در سال جاری در ولایت بامیان از طریق پروژه مدیریت محصولات زراعتی، ۲۹۴ ذخیره‌گاه صفر انرژی کچالو، ۳۹ ذخیره‌گاه پیاز، ۱۰ سردخانه میوه اعمار گردیده و هم‌چنان ۲۱ پایه دستگاه خشک‌کننده میوه برای باغداران توزیع گردیده است.»
وی افزود که حمایت از زنان زراعت‌پیشه یکی از اولویت‌های اساسی وزارت زراعت را تشکیل می‌دهد و به منظور توان‌مندسازی اقتصادی زنان در سال جاری مورد حمایت همه‌جانبه قرار گرفته است. به گفته‌ی او، در سال مالی ۹۹ خورشیدی، ۵۰۰ فارم مرغداری برای زنان ساخته و ۴۰۰ سبزخانه معیاری احداث شده و همین‌طور یک‌هزار بسته کامل پروسس لبنیات در اختیار زنان زراعت‌پیشه قرار گرفته است. هم‌چنین دو هزار گوسفند شیری بره‌دار اصلاح شده نیز به زنان در سطح ولایت بامیان توزیع شده است.
ریاست زراعت بامیان می‌گوید که این اداره ۳۷۳ متریک تن تخم اصلاح‌شده‌ی گندم برای کشت خزانی به ۹هزار و ۴۴۰ دهقان از طریق برنامه ملی تهیه و توزیع تخم اصلاح‌شده گندم، پروژه‌ها و موسسات همکار در سطح ولایت بامیان توزیع نموده است.
در بخش باغ‌داری این ریاست در سال مالی ۱۳۹۹، یک‌هزار و ۵۷۲ جریب باغ جدید میوه در سطح ولایت از طریق پروژه ملی باغدار و مالداری، پروژه مصونیت غذایی و مؤسسه‌ها همکار احداث کرده و هم‌چنان برای ایجاد سرسبزی و بهبود معیشت زراعتی، ۵۰ پروژه جنگل‌داری زراعتی هریک به مساحت سه جریب از طریق سیستم آبیاری سولری تطبیق گردیده است.
هم‌چنان این اداره در سال جاری، برای سرسبزی و بهبود محیط‌زیست در حدود ۵۰۰هزار نهال اصلاح‌شده غیرمثمر را در اختیار دهقانان بامیانی قرار داده شده است و همین‌طور ۲۲۹ هکتار چراگاه را با احداث «واترشیت» و پاشیدن تخم علف کوهی احیا کرده است.
رییس زراعت ولایت بامیان می‌گوید، این ریاست برای این‌که دهقانان بتوانند برای محصولات خود بازاریابی



کنند، مبلغ ۲۱۷ میلیون افغانی قرضه زراعتی از طریق صندوق انکشاف زراعت در اختیار حدود یک‌هزار و ۸۰۰ دهقان و اعضای کوپراتیف‌های زراعتی قرار داده است و از این طریق پروسه تولید و بازاریابی برای محصولات آن‌ها مورد حمایت قرار گرفته است. برای جلوگیری از امراض بروسلوز و طاعون نیز در حدود ۹۳ هزار حیوان خانه‌گی در سطح ولایت واکسین شده است.

# برداشتن گام‌های کوچک برای دست‌آوردهای بزرگ

مینا افسری
گزارش‌گر

کارش را با برداشتن گام‌های کوچک آغاز کرد اما، حالا برای ۲۰۰ تن دیگر نیز فرصت‌های کاری ایجاد کرده است.
مرغوبه صافی از جمله زنان موفق و تجارت‌پیشه است که با امکانات اندک در زمینه‌ی پروسس محصولات زراعتی و تولید صابون وارد بازار کار تجارت و رقابت شد. او در این راستا با شوق و علاقه‌مندی زیاد گام برداشت؛ کاری که شاید بسیاری از زنان دیگر نیز در فکر راه‌اندازی آن بوده باشند. این خانم تجارت‌پیشه، چیزی را که در ذهن داشت عملی ساخت و اکنون برعلاوه‌ی این‌که در پیش‌برد کارش موفقانه عمل کرده، مشوقی برای دیگر زنان نیز هست.
مرغوبه صافی، در سال ۲۰۱٦ میلادی شرکتی به نام «پیش‌رفت زنان» تأسیس کرد. هدف از تاسیس این شرکت، ایجاد اعتماد به نفس در زنانی بود که وابسته به دیگران هستند. ایجاد فرصت‌های شغلی برای زنان، بلند بردن سطح اقتصاد خانم‌ها و انگیزه دادن به دیگر زنان، کار اصلی مرغوبه صافی است.
خانم صافی پیش از این‌که شرکت «پیش‌رفت زنان» را راه‌اندازی کند، با مشکلات جدی اقتصادی مواجه نبود و تنها با تاسیس این شرکت می‌خواست به دیگر زنان نشان بدهد که می‌توان با سرمایه‌ی اندک کار بزرگی انجام داد. او کارش را با کم‌ترین هزینه و سرمایه آغاز کرد.
مرغوبه صافی به دلیل علاقه‌مندی که در کارش داشت و هدفی که برای تشویق دیگر زنان به انجام فعالیت‌های اقتصادی در پیش گرفته بود، کارش را به تنهایی آغاز کرد، اما تاکنون توانسته برای ۲۰۰ خانم دیگر فرصت‌های کاری مستقیم و غیرمستقیم فراهم بسازد. با ایجاد این فرصت‌های کاری، کارش رونق بیش‌تری گرفته و اکنون به یک تجارت‌پیشه‌ی موفقی مبدل شده است.
مرغوبه صافی می‌گوید که بیش‌تر کارمندان تحت پوشش شرکت «پیش‌رفت زنان»، خانم‌های پرتلاش‌اند. وی هدف از استخدام زنان معتاد در شرکت را ایجاد فرصت‌های شغلی و دریافت منبع درآمد برای این زنان عنوان می‌کند.
مرغوبه صافی که رشته زبان و ادبیات را در دانشگاه کابل خوانده است، با کار و فعالیت در عرصه‌ی تولید و تجارت، حالا شایسته‌گی و توانایی خاصی در بخش پروسس محصولات زراعتی و محصولات آرایشی کسب کرده است.
در این بخش ۲۰ نفر به شمول مردان و زنان با وی همکاری می‌کنند.
شهامت، پشتکار، شجاعت، نرم‌دلی و خودباوری را که می‌توان از فعالیت‌ها و نحوه‌ی برخورد مرغوبه صافی فهمید، می‌گوید: «کارم را از هیچ شروع کردم حتا وسایل اولیه که نیاز داشتم با نسیه گرفتم و از وسایل دم‌دست خیلی ساده مثل قوطی آب میوه برای قالب صابون استفاده می‌کردم.»
مرغوبه که هدفش انگیزه دادن به دیگر بانوان است، کارش را از آشپزخانه‌اش آغاز کرد. او با گسترش دادن فعالیت‌هایش، کارش را از آشپزخانه منزلش به شرکت تجارتی پیش‌رفت زنان توسعه داده است.
خانم صافی می‌گوید: «تمام محصولات شرکت پیش‌رفت زنان دست‌ساز می‌باشد که توسط زحمات خود بانوان کارکن تولید می‌شود.»
مرغوبه صافی افزود که در کنار تولید لوازم بهداشتی و پروسس سبزیجات، در بخش پرورش صنعت زنبورداری و مرغداری نیز فعالیت دارد.
صابون‌هایی که توسط شرکت «پیش‌رفت زنان» تولید می‌شود، از ترکیبات روغن‌های طبیعی مانند جواری، موم زنبور عسل، روغن زیتون، ناریال، بادام و نباتات طبی با کیفیت مانند آلویه‌ورا، بادرنگ، زردچوبه، زیره، زعفران و انواع گل، به دست می‌آید. این شرکت توسط یک تیم که متشکل از کارمندان صحی، تولیدکننده‌گان و دهقانان می‌باشد، تحت نظر خانم صافی رهبری می‌شود.
بیش‌تر محصولات شرکت پیش‌رفت زنان شامل انواعی صابون گیاهی، محصولات زراعتی و ترشی می‌باشد و به صورت عمده و پرچون در بازارهای داخلی و خارجی، نمایشگاه‌ها و نماینده‌گی‌های کشورهای مختلف به فروش می‌رسد و درآمد خالص هر ماه ۳۰ هزار افغانی است.
مرغوبه می‌گوید: «٦۰ درصد از خریداران محصولات ما در کشورهای دیگر می‌باشند و در تلاشیم تا تولیدات ما روزبه روز افزایش یابد، زیرا ما علاوه بر نیروی انسانی، ظرفیت تولید را نیز داریم.»
خانم صافی یکی از ده‌ها خانم تجارت‌پیشه‌ای است که با مشکلات اجتماعی کنار آمده و توانسته علاوه بر راه‌اندازی کاروبار تجارت، سه فرزندش را نیز به تنهایی به ثمر برساند و با تحصیلات عالی به جامعه تقدیم کند.
مرغوبه می‌گوید در پروژه‌های مختلف وزارت زراعت کار کرده است و تجربه‌های خوبی را از این وزارت به دست آورده است.
بانو صافی از وزارت زراعت، آبیاری و مالداری به خاطر حمایت‌ها و سهیم ساختن زنان در برنامه‌های زراعتی، آموزشی و راه‌اندازی برنامه‌های مکتب مزرعه دهقانی قدردانی کرده، خواستار تداوم فعالیت‌های این وزارت برای حمایت از زنان است.
صافی از وزارت زراعت خواست که یک قطعه زمین زراعتی جهت تاسیس سبزخانه در اختیارش قرار دهد تا در فواصل مختلف به هدف پروسس محصولات زراعتی به سبزیجات دسترسی داشته باشد و هم‌چنان در کنار افزایش تولیدات به شمار زنان شاغل نیز افزوده شود.
علاقه‌مندی خانم صافی به کشت و زراعت باعث شده تا صنف‌های آموزشی را برای آگاهی کودکان برگزار کند. او گفت: «برای کودکان برنامه‌های آموزشی دارم که جهت آگاهی آنان در قریه‌جات روش‌های کشت و پرورش را آموزش داده و درباره‌ی ارزش و فواید کشت و زراعت آگاهی‌های لازم را به آنان می‌دهم.»
افزایش تولیدات درسطح ملی و بین‌المللی، برندسازی محصولات، ایجاد فرصت‌های کاری بیش‌تر برای زنان و ایجاد سبزخانه‌ها از جمله مواردی است که مرغوبه بر آن تاکید دارد تا در آینده انجام دهد.
مرغوبه صافی به دیگر زنان توصیه می‌کند تا از امکانات کمی که در دسترس دارند، استفاده کرده همت انجام دادن کاری را که می‌خواهند داشته باشند تا به استقلالیت مالی برسند، شروع کنند.
-



✍محمد تمیم صدیقی
گزارش‌گر

# زیره وطن، هم دارو هم غذا

## بررسی وضعیت تولید و اهمیت یک گیاه پرارزش

زیره از جمله گیاهان دارویی است که در سطح کشور به گونه وحشی و زراعتی وجود دارد. زیره در طبابت یونانی و غذاهای افغانی استفاده می‌شود. دارای کیفیت عالی و طعم و بوی خوش است.
آمار ریاست احصاییه وزارت زراعت در سال ۱۳۹۸ نشان می‌دهد که در سراسر کشور از هشت هزار و ۶۴۰ هکتار زمین، ۱۲ هزار ۹۸۹ متریک تن زیره تولید شده است.
در همین سال، ۱۰ میلیون و ۵۴۸ هزار و ۴۲۸ کیلو گرام زیره‌ی کشور به هند، پاکستان، ترکیه و کشورهای اروپایی صادر شده و به ارزش ۲۸ میلیون ۶۶۰ هزار و ۸۰۸ دالر امریکایی به عواید دولت افزوده است.

### زیره‌ی قندهار

ریاست زراعت ولایت قندهار درباره ساحه کشت و تولید زیره می‌گوید: «ولایت قندهار در حدود ۱۱۴۵ هکتار زمین برای کشت زیره دارد. از این ساحه سالانه یک هزار و ۲۵۹ متریک تن زیره تولید می‌شود. این محصول بازار خوب نیز دارد و سالانه برای کارنده‌گان، فروشنده‌گان و صادرکننده‌گان این گیاه، در حدود ۲۵۱ میلیون ۸۰۰ هزار افغانی درآمد می‌کند.»
محمدهارون شریفی سرپرست آمریت امور زراعتی ولایت قندهار می‌گوید که در هر جریب زمین به اندازه چهار کیلو زیره، ۱۵ الی ۳۰ کیلو کود کیمیایی کشت می‌گردد. این مقدار ۵ تا ۸ بار به آبیاری ضرورت دارد.
قندهار از جمله ولایت‌هایی است که آب‌وهوای مناسب برای رشد و کشت زیره دارد و بیش‌ترین زیره در ولسوالی‌های نیش، دامان، خاک‌ریز، شاولی‌کوت، تخته‌پل و سپین‌بولدک تولید می‌گردد.
موسی کلیم یکی از زمین‌داران قریه ملک امیرجان، ولسوالی تخته پل قندهار است. او می‌گوید که زیره از زمان‌های قدیم در این ولایت کشت و زرع می‌شود. این مناطق به قول او، زیره بسیار اعلی دارد هر سیر به قیمت یک هزار افغانی در بازارهای داخلی فروخته می‌شود.
جانان یک تن از زیره‌کاران قریه اعظم کلا، ولسوالی دامان ولایت قندهار است. او می‌گوید که در این ولسوالی زیره به گونه سنتی کشت و برداشت می‌شود نتیجه خوب داده است. مردم محل با امکانات دست داشته خوب زیره را پروسس و به بازار عرصه می‌کنند.

### زیره‌ی ارزگان

اکثریت باشنده‌گان ارزگان زراعت‌پیشه‌اند. محصولات مهم زراعتی آن‌ها در کنار زیره، عبارت است از گندم، جواری، ماش، برنج، بادام، چهارمغز، کشته، کشمش، توت و سنجد.
احمدشاه خیری رییس زراعت ولایت ارزگان می‌گوید: «ساحه کشت زیره در این ولایت در حدود ۵۴۷ هکتار می‌باشد از این میان ۴۹۹ هکتار آن را زیره سیاه و ۴۸ هکتار آن را زیره سفید کشت می‌شود.
او می‌گوید تولید سالانه از این مقدار به میزان ۶۱۰ متریک تن می‌رسد که از آن جمله ۵۷۳ تن زیره سیاه و ۸۰ تن زیره سفید در سطح ولایت ارزگان تولید می‌شود.
آقای خیری در مورد خرید و فروش زیره در ولایت ارزگان می‌گوید که زیره بازار داخلی و خارجی دارد بازار داخلی زیره ولایت قندهار و غزنی می‌باشد، که از طریق آن به کشورهای هند و پاکستان صادر می‌شود.
نظر به شرایط اقلیمی مناسبی که ارزگان دارد، این ولایت بستر خوب برای رشد و کشت زیره موجود است و در تمام ولسوالی‌های آن زیره کشت می‌شود.
امین یک تن از دهقانان ترینکوت مرکز ولایت ارزگان است. او می‌گوید که زیره محصول خوب است سالانه از این طریق درآمد خوب به دست می‌آورَد. انتظار او از وزارت زراعت این است که در قسمت ترویج نژادهای جدید زیره و آفات و امراض گیاهی، آنان را کمک و همکاری کند.
نورآغا یک تن از زمین‌داران ترینکوت است. او می‌گوید که پنج جریب زمین دارد در کنار سایر محصولات زیره نیز کشت می‌کند. هر کیلو زیره را در بازارهای داخلی به ارزش ۳۰۰ افغانی و یک تن زیره را به ۳۰ هزار افغانی به فروش می‌رساند.

### زیره‌ی بادغیس

اقتصاد این ولایت عمدتاً بر محصولات زراعتی و مالداری پای‌بند است. زراعت آن به شکل للمی (دیمی) است.
حاصلات زراعتی آن عبارت از: گندم، جو، جواری، نخود، زیره، کنجد، تربز، خربزه و ... است. بادغیس از قدیم‌الایام تا امروز به نام گدام خراسان و حوزه‌ی غربی افغانستان مشهور بود. پیشه‌ی دوم مردم این دیار مالداری و تربیت گوسفند نوع قره‌قُل است که از همین مدرک همه ساله گوسفند، پوست قره‌قُل، پشم، کُرک و قروت به سایر ولایات و خارج کشور صادر می‌گردد.
عبدالتواب تائب، رییس زراعت ولایت بادغیس می‌گوید: «ساحه کشت زیره در این ولایت در حدود چهار هزار و ۳۹۱ هکتار می‌باشد که از همین ساحه در حدود دو هزار و ۸۲۱ تن زیره تولید می‌شود. ولایت بادغیس سالانه از این درک در حدود ۱۵ میلیون ۸۶۸ هزار و ۱۲۵ افغانی درآمد می‌کند.»
آقای تائب افزود که زیره از جمله نباتات دارویی است که به شکل للمی کشت و زرع می‌شود. بیش‌تر دهقانان این ولایت در کنار سایر نباتات زیره نیز کشت می‌کند.
زیره در ولسوالی‌های قادس، مقر، آب‌کمری، جوند، بالامرغاب، و قلعه‌ی نو ولایت بادغیس کشت می‌شود. نام‌دارترین نوع زیره در این ولایت «زیره سبز» است.
محمد اسماعیل یک تن از دهقانان ولسوالی آب‌کمری ولایت بادغیس است. او می‌گوید که خدا را شکر است یک لقمه نان از طریق فروش محصولات زراعتی به گونه حلال حاصل به دست می‌آوریم. زیره یک گیاه دارویی است که بازار خوب دارد. دو نوع زیره در این ولایت کشت می‌شود زیره سیاه و زیره سفید.
سید یوسف یک تن از زمین‌داران قلعه‌ی نو ولایت بادغیس است. او می‌گوید که زیره در منطقه‌ی آنان خوب نتیجه داده است و زیره سبز به قیمت بلند فروخته می‌شود. او می‌افزاید: «از وزارت زراعت می‌خواهیم که برای محصولات و گیاهان‌مان بازار پیدا کند.»

### زیره‌ی بدخشان

زیره در ولایت بدخشان از زمان‌های سابق به گونه وحشی در این ولایت وجود داشته و مردم به گونه سنتی و عنعنه‌ای از آن حاصل برداشت می‌کنند. بدخشان یکی از ولایت‌هایی است که زیره‌ی آن از شهرت خاص برخودار است، چون خالص و ارگانیک است.
سید معین‌الدین عینی رییس زراعت ولایت بدخشان می‌گوید گیاه زیره به شکل طبیعی در تمام کوهستان‌های این ولایت وجود دارد و ارقام دقیق آن در دست‌رس نیست. اما به گونه‌ی زراعتی در حدود ۴۰۰ هکتار زمین در این ولایت زیره کشت می‌شود و از این مقدار در حدود ۱۰۰ تن تولید می‌شود.
رییس زراعت ولایت بدخشان گفت که مشهورترین نژادهای زیره در آن ولایت عبارت از زیره سیاه، زیره کجک، زیره شیبری و زیره سفید است. بیش‌ترین زیره بدخشان در ولسوالی‌های شغنان، اشکاشم و شهدا کشت و تولید می‌شود.
زیره بدخشان دارای کیفیت عالی، مزه‌ی خوب و دارای بوی خوش فراوان است. بازارهای داخلی و خارجی دارد.
شهاب یک تن از زمین‌داران ولسوالی شهدا ولایت بدخشان است. او می‌گوید که تقریباً در این ولسوالی در حدود ۲۰۰ هکتار زمین زیره کشت می‌شود و مزه خاص دارد و هر سیر آن در بازارهای داخلی به دو هزار و ۵۰۰ افغانی فروخته می‌شود.

### درباره زیره

در طرح توسعه‌ی زیره که توسط وزارت زراعت تهیه و از سوی شورای عالی اقتصادی ریاست جمهوری منظور شده است، نگاشته شده است: «زیره cuminum cyminum نبات علفی و دارای انواع (سیاه، سفید، سبز، کجک) یک ساله یا چند ساله اند. و نام انگلیسی‌اش Cumin seed می‌باشد. ارتفاع این گیاه تا ۶۰ سانتی متر می‌رسد. ریشه دراز و باریک به رنگ سفید، ساقه آن راست و برگ‌هایش به شکل نوار باریک و به رنگ سبز می‌باشد. زیره ممکن است سبز و خاکستری و در دیگر ویرایتی‌ها، حتا سفید و زرد باشد. قسمت مورد استفاده این نبات میوه آن است.
گل‌های زیره سفید یا گلابی به صورت چتری در انتهای ساقه ظاهر می‌شود. این نبات به طور وحشی در مناطق مدیترانه‌ای می‌رُوید. زیره به رنگ‌های زرد تیره، سبز و خاکستری وجود دارد. طبیعت آن گرم و خشک است.
چون زیره سبز نبات مدیترانه‌ای است، لذا در طول رویش به حرارت مناسب و نور کافی نیاز دارد. این نبات در طول مرحله گل‌دهی و تشکیل تخم به آب کم‌تری احتیاج دارد. خاک‌های بسیار سبک و بسیار سنگین برای کشت زیره مناسب نبوده و مناسب‌ترین خاک غرض رویش آن خاکی با بافت متوسط است. حد اقل دمای تحمل زیره سبز ۱۵ درجه و حداکثر ۴۷ درجه می‌باشد. فصل مناسب رشد زیره سبز در اواخر خزان تا اواسط بهار است.
طول رویش زیره سبز، کوتاه و بین ۱۰۰ تا ۱۱۰ روز است.
جهت کشت زیره سبز باید زمین را در خزان نرم کرده و کود کاملاً پوسیده حیوانی به زمین اضافه گردد. به دلیل این که زیره سبز به بیماری‌های قارچی حساس است، باید توجه کرد که کود حیوانی کاملاً پوسیده باشد. زیره را می‌توان به جز در مناطق سرد سیر و ارتفاعات بلند، در بیش‌تر مناطق به عنوان کشت خزانی بذر کرد و در ارتفاعات بلند می‌توان این گونه را به صورت بهاری کشت کرد. روش کاشت زیره به صورت کشت مستقیم تخم در زمین اصلی است. نیمه‌های خزان (عقرب) پس از آماده‌سازی زمین، تخم‌ها را به مدت ۲۴ ساعت در آب روان مرطوب کنید تا مواد بازدارنده جوانه‌زنی کاهش پیدا کند و سپس به طور پاشان یا شکل خطی کشت کنید.
این گیاه به طور وحشی در نواحی وسیعی در آب و هوای مدیترانه‌ای می‌روید. در اغلب نقاط افغانستان شامل ارزگان، بادغیس، بدخشان، بغلان، بلخ، پروان، پکتیکا، پنجشیر، خوست، سرپل، سمنگان، غزنی، غور، فاریاب، فراه، کابل، کاپیسا، کنر، لغمان، نورستان، هرات و هلمند، این گیاه به طور وحشی نیز رشد می‌کند.»

هفته‌نامه
دهقان

صاحب امتیاز: وزارت زراعت، آبیاری و مالداری
(۰۷۶۶۴۰۰۶۰۰ - akbar_rostami۱۰@yahoo.com)
مدیر مسوول: سید نورالعین ۰۷۹۳۴۰۵۵۹۹ - snoorulainn@gmail.com
دبیران: ظفرشاه رویی، جمعه‌گل اشرفی
گزارشگران: گیتی محسنی، شفیق‌الله نوری، شجاع‌الحق نوری
نعیم رضایی، حشمت‌الله حبیبی، مینا افسری
عبدالواسع خان‌زاده، محمد تمیم صدیقی و نور الله پتمن
برگ‌آرایی: بشیر رسا

نشانی برقی: Public.relation@mail.gov.af
ویب‌سایت: www.mail.gov.af
فیس‌بوک: وزارت زراعت، آبیاری و مالداری / د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت
تویتر: @MAIL_AF
شماره‌های تماس: ۰۷۶۶۴۰۰۶۰۰ ۰۷۴۸۰۰۹۱۳۷
آدرس: جمال مینه، کارته سخی، کابل، افغانستان

DEHQAN WEEKLY

STANDARD AGRICULTURE:
ACCESS TO GLOBAL MARKET

No: 123 ▪ Dehqan Weekly ▪ Saturday ▪ January 2th ▪ 2021

# رب بوستان، محصول جدید کمپنی زراعتی بوستان سبز با حضور وزیر زراعت رونمایی شد




رب بوستان، تولید جدید شرکت زراعتی بوستان سبز، رسماً با حضور داکتر انوارالحق احدی وزیر زراعت، آبیاری و مالداری، عمده‌فروشان و مسوولان این کمپنی رونمایی شد.
انوارالحق احدی وزیر زراعت آبیاری و مالداری در این مراسم، در سخنرانی‌اش، از سرمایه‌گذاری شرکت بوستان سبز در بخش‌های مختلف زراعتی قدردانی کرد و گفت که در شرایط کنونی کشور ما به این گونه کمپنی‌های بزرگ نیاز جدی دارد تا بتوانند با پروسس محصولات دهقانان در بالا رفتن اقتصاد کشور کمک کنند.
آقای احدی یادآور شد که با تطبیق برنامه‌های مختلف در سراسر کشور از سوی وزارت زراعت، محصولات دهقانان، به خصوص در بخش تولیدات باغداری و سبزخانه‌ها، افزایش یافته است و موجودیت کمپنی‌های هم‌مانند بوستان سبز ضرورت جدی است و باید بوستان سبز نماینده‌گی‌های خودش را در زون‌های مهم کشور فعال کند.
وزیر زراعت رونمایی رب بوستان را اقدام نیک در راستای رشد زراعت دانست و از مردم خواست تا از تولیدات وطنی استفاده کنند.
با این حال نعیم عطارد رییس اجرایی بوستان سبز می‌گوید که رب بوستان، محصول جدید از بادنجان‌رومی‌های دهقانان کشور می‌باشد که با استانداردهای بین‌المللی به بازار عرضه می‌شود.
آقای عطارد گفت که آنان در کمپنی زراعتی بوستان سبز خط تولیدی رب بادنجان رومی را با ظرفیت تولیدی ۲۰ متریک تن در ساعت فعال ساخته‌اند.
کمپنی زراعتی بوستان سبز از سال ۲۰۰۷ با سرمایه‌گذاری خصوصی و با همکاری وزارت زراعت به فعالیت آغاز کرد که در بخش‌های تولید دو نوع جوس از محصولات باغداران، تولید عسل، بسته‌بندی میوه‌جات و سبزی‌جات، فارم مرغداری، فارم تحقیقات زراعتی و تولید رب فعالیت می‌کند.

# «د افغانستان-پاکستان د ترانزیت او سوداګرۍ هوکړه‌لیک د همغږۍ کمېټې» اتمه غونډه اسلام‌آباد کې په لاره واچول شوه



د افغانستان-پاکستان د ترانزیت او سوداګرۍ هوکړه‌لیک د همغږۍ کمېټې د غونډو په دوام، د ۱۳۹۹ یم کال د مرغومې اتمه د دوشنبې په ورځ د «اپتیکا» اتم تخنیکي غونډه، د پاکستان اسلامي جمهوریت د لومړي وزیر ستر اقتصادي سلاکارۍ او ددې هېواد د سوداګرۍ وزارت په کوربه توب د افغانستان د پلاو په شتون کې، په لاره واچول شوه.
غونډه د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو وزیر او د پاکستان د لومړي وزیر اقتصادي ستر سلاکار له خوا پیل شوه.
وروسته د دواړو هېوادونو پلاوي تخنیکي خبرې اترې پیل کړې، چې د افغانستان له خواو د پلاوي مشري د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د اوبولګولو او طبیعي سرچینو مرستیال ښاغلی حشمت الله غفوري پر غاړه وه. ښاغلی غفوري د «اپتا» هوکړه‌لیک پر جزیاتو خبرې وکړې.
وروسته پر یاد هوکړه لیک چې په ۲۰۱۰ام کال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ لاسلیک شوې وه او ټاکل شوې، چې د ۲۰۲۱ام زېږدیز کال د فبروري په میاشت کې پای ته ورسیږي هر اړخیزې خبرې اترې پیل شوې.
حشمت الله غفوري، چې د افغانستان د پلاوي مشري پر غاړه لري، په خپلو خبرو کې ددې سند پر اهمیت خبرې وکړې او یادونه یې وکړه، هغو ستونزو او تجربو ته په کتو چې د «اپتا» (دافغانستان-پاکستان د ترانزیت او سوداګرۍ هوکړه لیک) د هوکړه‌لیک په لړ کې مو د تېرو لسو کالو په ترڅه کې حس کړي دي، د «اپتا» د نوي هوکړه‌لیک محتویات به له هراړخیزو خبرو اترو او له یو بل سره په ګډه تفاهم چمتو کوو ترڅو د دواړو هېوادونو د خصوصي سکټور ستونزې هوارې شي.
د اجنډا پر اساس، د «اپتیکا» غونډې تر دوو نورو ورځو هم غځیږي او ټاکل شوې، چې د غونډو په پای کې د دواړو خواوو پلاوي د «اپتا» د راتلونکې سند پر محتویاتو، د «اپتیکا» د نهم پړاو غونډې د جوړولو پر څرنګوالي او پر جانبي هوکړه لیکونو او پروټوکولونو یوې پایلې ته ورسیږي.
د یادونې وړ ده، چې د افغانستان له خوا د پلاوي په اډانه کې د سوداګرۍ او صنایعو وزارت سربېره، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت، د مالیې وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، د رېل پټلۍ اداري، د حرکت اداري، د سوداګرۍ او پانګونې خونې او د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ټرانسپورت وزارت با صلاحیته استازي ګډون لري.